خپلواکی استقلال
www.esteqlaal.net

لیکوال: ډاکتر نوراحمد خالدی چهار شنبه، ۲٤ نوامبر، ۲۰۲۱
پښتو ژباړونکی: ذبیح الله خوګیانی

# د افغانستان معاصر تأریخ




دریمه برخه

## د افغانستان د نوم عمومي کیدل:

دا یوه تیروتنه او له غرض نه ډک عمل دی چې د میرویس خان یا احمد شاه ابدالي لخوا په کوم رسمي فرمان پسې وګرځو،چې د افغانستان نوم یې په رسمي ډول د خپل سلطنت او واک لاندې سیمو کې ایښی وي. دا طبیعي ده، چې دولتونه په هغه نوم چې د اکثریت قوم نوم وی یادیږی. د ابدالي سلطانانو د واک قلمرو په اول کې افغانستان نه وو نومیدلی. مګر فارسانو، تاجکانو او ترکانو پښتانه د «افغان» په نامه پیژندل او د هغوی مېشته سیمی ته «افغانستان» خطاب کول (سیف هروی تاریخ هرات او بابرنامه). خوشحال خان او رحمان بابا هم د افغان د نوم نه کار اخیستی دی. پر همدی اساس دا نوم په طبیعي شکل سره په تدریجي ډول د دوی د حاکمیت او قیمومیت لاندې سیمو باندې په رسمیت پیژندل شوی دی او په رسمي سندونو کې یې یادونه شوې ده.

مگر د ربانی- مسعود تاجکانو د ۱۹۹۲م د واکمنی نه وروسته د افغانستان د نوم او د افغان ملیت په مقابل مخالفتونه پیل شو او دا مخالفتونه د ۲۰۱۰م میلادی کال نه وروسته په جدی او رسمی ټوگه د تاجکانو او هزارگانو سیاسی دریځ وگرځید.

دا باید له یاده و نه باسو، چې دا سیاسي استقلال، حنفي اسلام او افغاني فرهنگ دی، چې د افغانستان د دولتونو ماهیت جوړوی نه د افغانستان نوم او د میرویس خان هوتک له وخت نه تر نن ورځې پورې د دوام عامل ده.

همدا راز ډېرو نورو هیوادونو د زیات نفوس لرونکو قومونو نوم (یا دین) د خپل هیواد نوم ایښی دی، لکه هندوستان،تاجیکستان، اوزبیکستان، ترکمنستان، قزاقستان، عربستان، ترکیه،جرمنی، فرانسه، روسیه او داسی نور، او د هیواد ټول میشت اقوام د دې طبیعي نومونې سره کومه ستونزه نه لري.

څرنگه، چې مخکې مو وویل، چې د اتلسمې میلادي پېړۍ په پیل کې، کله چې میرویس خان په هېواد کې د صفویانو په مقابل کې د یوه پاڅون په ترڅ کې خپلواک بومي دولت جوړ کړ او له هغې څخه وروسته بیآ په ۱۷۴۷م کال کې احمد شاه ابدالي په یاد هیواد کې یو خپلواک دولت جوړ کړ چې نن یې د افغانستان په نوم پیژنو له هغه وخت څخه مخکې یې کوم ځآنگړی نوم نه درلود. مگر د بېلابیلو جغرافیایي حوزو څخه جوړ شوی وو چې شما-لویدیز سیمویې دخراسان په نامه یادیدل.

مهمه خبره داده د خراسان په نوم صفویانو او د هغوی نه وروسته افشاریانو کوم ولایت نه درلودل بلکه هرات او قندهار هر یو ځانته ځانگړی بیلگربیلگی یا والیان درلودلی. دا باید په یاد ولرو چی د صفویانو د واکمنی په وخت کی په رسمی ټوگه دوه پښتون مشران، په قندهار کی میرویس خان هوتکی او په هرات کی اسدالله خان ابدالی، د سیمی د خلکو رییسان او مشران په صفت د صفوی د بیلگربیلگیانو سره ارتباط درلودل.

د افغانستان نوم د اتلسمې میلادي پیړۍ په منځنیو کلونو کې، کله چې د هیواد سیاسي یووالی دیوه افغاني خپلواک دولت په ترڅ کې میسر شوو او بالاخره په نولسمه میلادی پیړۍ کې چی دا دولت مستحکم شو، شهرت وموند. اگر چې د افغانستان کلیمه، د پښتنو د ځای او مکان په شکل (پښتانه)، د لومړي ځل لپاره د هرات په تاریخ پانه کې، د سیف هروي په تالیف د څلورمې قمري پیړۍ په سر کې ذکر شوي دي. مگر دافغانستان نوم د لومړی ځل لپاره د یو مستقل هیواد د رسمي نوم په شکل په ۱۷۸۲ میلادي کال کې د جورج فورستر په کتاب کې د دُراني دولت د قلمرو په سیمو باندی ذکر شوی دی.

salamwatanam@gmail.com

## د افغانستان نوم، ملت او دولت ته د کرونولوجیکی له نظره مختصره کتنه:

۱) په ۱۷۸۲ م کال کې د تیمورشاه د سلطنت په وخت کې جورج فورسټر، له افغانستان څخه د تیریدو په وخت کې د افغانستان د ملت او هیواد د نوم یادونه کوي (جورج فورسټر،د بنګال څخه انګلستان ته مسافرت د هندوستان د شمال، افغانستان، فارس او روسیي له لارو، د لندن چاپ،۱۷۸۹م).

۲) په ۱۷۸۹م کال کې د قاجار دولت وزیر اعظم حاجي ابراهیم په یو رسمي مکتوب کې د افغانستان یادونه کوي (صدیق فرهنګ، افغانستان په آخرو پنځو پیړیو کې).

۳) په ۱۷۸۹م کال کې د شاه زمان وزیر اعظم وفادار خان په رسمي مکتوب کې د قاجار د صدراعظم په ځواب کې د افغانستان یادونه وکوي (صدیق فرهنګ، افغانستان په آخرو پنځو پیړیو کې).

۴) د هندوستان مشهور شاعر میرزا اسدالله خان غالب او همداراز تاریخ لیکونکی د مغولیه د دربار چی د اتلسمی پیړی په پیل کې تقریبا ۲۵ کاله د لوی احمد شا بابا له زږیدني وروسته تولد شوی دی. خپله په اردو ژبه په یوه لیک کې، چې د ((خطوط غالب)) په نوم مشهور دی) د «خان» کلیمه یي تشریح کړې او داسې لیکلي چې: «خان» په هند کی عام ډول سره د افغانستان خلکو ته ویل کیږي.

۵) په ۱۸۸۰م کال کې الفنستون د افغانستان له هیواد څخه نوم وړی (موتستوارت الفنستون،د کابل د سلطنت ګزارش او د هغی د تابعو قلمروونو په فارس کې، کشمیر او تاتاري،چاپ د لندن ۱۸۴۲م).

۷) په ۱۸۳۸ م کال کې د بریتانوي هند وایسرا د انګریز او افغان د لمړی جګړې د پیل څخه د مخه د افغانستان د دولت د نوم یادونه یي کړې ده (صدیق فرهنګ، افغانستان په آخرو پنځو پیړیو کې).

ماخذونه:

۱. جورج فورسټر،«د بنګال څخه انګلستان ته مسافرت د هندوستان د شمال، افغانستان، فارس او روسیي له لارو»، د لندن چاپ،۱۷۸۹م

۲. بابرنامه، توزک بابری، انګلیسی ترجمه

۳. مونت ستیوارت الفنستون کتاب، د کابل د سلطنت ګزارش، انګلیسی متن، لندن ۱۸۳۸م.

٤. سیف هروي «تاریخنامه هرات» د څلورمې قمري پیړی تالیف.

٥. میر غلام محمد غبار، افغانستان د تاریخ په اوږدو، لومړی ټوکهو په دری ژبه.

٦. میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان په تیر پنځو پیړیو کې ، په دری ژبه د ایران چاپ.

۷. مرزا اسدالله خان غالب، خطوط غالب، ۲۳۰ - ۲۰۲۰ (پای)

salamwatanam@gmail.com